هفته نامه
# معارف
اوونيزه
د پوهنې وزارت خبري، ادبي او ټولنيزه خپرونه
سال تاسیس ۱۳۸۱ شماره مسلسل ۲۰۰ ماه سنبله سال ۱۳۹۵

معارف سالم، متوازن و کوشا ضامن رشد و ترقی کشور است

## پیام جلالتمآب وزیر معارف کشور به مناسبت فرا رسیدن عید سعید اضحی

هموطنان مؤمن! خواهران و برادران متدّین! ملت شریف افغانستان! خانوادۀ بزرگ معارف اعم از آموزگاران زحمتکش و دانش آموزان عزیز و دست اندر کاران تعلیم و تربیت در سراسر کشور!

السلام علیکم ورحمة الله و برکاتة

فرارسیدن عید سعید اضحی را به هریکِ شما از صمیم قلب تبریک و تهنیت عرض می کنم. و از خداوند بزرگِ منان استدعا می نمایم که این ایام خجسته را در فضای پر از امن و آرامی، با روح مطمئن و قلب سرشار از خوشی با سعادت و خوشبختی سپری نمایید.

عید قربان یاد آور ایثار و خود گذریِ حضرت ابراهیم خلیل و حضرت اسماعیل ذبیح - علیهما السلام - می باشد، پدر و فرزندی که شکوه ایمان و اوج اخلاص را به نمایش گذاشتند و الگوی راستین برای همۀ نسل ها در همۀ عصرها گردیدند.

ما مسلمانان که افتخار پیروی از سنت ابراهیمی -علیه السلام- و شریعت محمدی - صلی الله علیه وسلم- را داریم، باید سعی کنیم تا در این عید فرخنده، با ایثار وخود گذری و محبت و آشتی و دستگیری از نیازمندان و رسیدگی به مستمندان و دلجویی از اقارب و خویشاوندان، مسئولیت ایمانی و دینی مان را ادا نموده ایمان واقعی و اخلاص حقیقی خود را به نمایش بگذاریم.

دعا می کنم که خداوند مهربان، امنیت و صلح را در کشور عزیز ما



برقرار فرموده، غم و مصیبت، فقر و بدبختی، جنگ و برادرکشی را برای همیشه از وطن ما دور ساخته، پیشرفت، آبادی و سرفرازی را نصیب مردم ما گرداند.

إنَهُ سَميعٌ قَرِيبٌ مُجيب.

## عامه کتابتون له پوهنې وزارت سره د کتابونو مرسته وکړه

د افغانستان د اطلاعاتو کلتور وزارت عامه کتابتون د پوهنې وزارت اړوند کتابتونونو سره شاوخوا ۸۰۰۰ټوکه کتابونه مرسته وکړه. په یادو کتابونو کې تر ډېره د دیني



او روغتیایي څانګو کتابونه شامل دي، چې د پوهنې وزارت له پلان سره سم به مرکزي او ولایتي کتابتونونو ته وویشل شي.

د پوهنې وزارت د عمومي تعلیماتو معین ډاکټر محمد ابراهیم شینواري له اطلاعاتو کلتور وزارت او عامه کتابتون له چاروکو مننه وکړه، چې په هیواد کې د مطالعې د کلتور دودولو او د زده کوونکو د عمومي معلوماتو د ډېرولو لپاره یې له پوهنې وزارت سره دا مرسته وکړه. ده زیاته کړه، چې اطلاعاتو کلتور وزارت کولای شي په مختلفو برخو کې له پوهنې وزارت سره همغږي او همکاري ولري.

په ورته وخت کې د اطلاعاتو کلتور وزارت مرستیال ډاکټر کمال سادات هم ددې مرستې له امله خوښي وښوده او ژمنه یې وکړه، چې وزارت به یې په هره ممکنه برخه کې له پوهنې وزارت سره همکاري کوي. ده وویل، چې نوموړی وزارت په هیواد کې د کتاب لیکنې، ژباړې او څېړونو یوه نوې لړۍ پیلوي، چې په لړ کې چاپېدونکي آثار به یې پوهنې وزارت ته هم د زده کوونکو د معلوماتو د ډېرولو لپاره ورکړل شي.

پوهنې وزارت د یوه ستر او تاریخي مرکزي کتابتونه ترڅنګ تر لسو زرو ډېر کوچني او ستر کتابتونونه لري، چې د زده کوونکي د علمي سویې د لوړولو لپاره جوړ شوي دي.

## تدویر سیمینار آموزشی برای معلمین مکاتب ولایت زابل

سیمینارآموزشی ۱۲ روزه تحت عنوان نظارت وارزیابی برای معلمین مکاتب ولایت زابل دایر گردید.

ور کشاپ متذکره از طرف ریاست عمومی تربیه معلم وزارت معارف براه انداخته شده که به تعداد ۲۴۵ تن از معلمین، مکاتب شهر قلات و ولسوالی شا جوی و شهر صفا در آن اشتراک دارند آنان در رابطه به میتود درسی وارزیابی دانستنی های ارزشمندی را فراخواهند گرفت.

در محفلی که بدین مناسبت تدویر گردیده بود محترم رحیم الله لودین رئیس معارف آنولایت طی سخنانش اشترا ک کننده گان ورکشاپ را متوجه مسوولیت ها و وظایف شان نموده و از آنان خواست تا مسایل که در ورکشاپ مطرح می گردد به وجه احسن در مکاتب مربوطه شان عملی نماید.

## د کندهار په ښځینه ښوونځیو کې نجونې خپلې زده کړې نه بشپړوي

د کندهار د پوهنې ریاست مسئوولین وایي، په دغه ولایت کې چې کله ښځینه زده کوونکې لوړو صنفونو ته رسیږي، نو ښوونځي پرېږدي.

دوی وایي، چې له ۷۹ زره ښځینه زده کوونکو څخه یوازې شاوخوا ۱۳ زره زده کوونکې یې لوړ صنفونه لولي او نورې ټولې زده کوونکې مکتب پرېږدي.

د کندهار د پوهنې رییس عبدالقادر پیوستون وایي، هرکاَل ۱۳ زره نجونې د لیسې دورې ته شاملیږي، خو تیرکاَل مو یوازې څلورسووشل فارغانې درلودې .

نوموړي زیاته کړه: د ښځینه زده کوونکو د زده کړو پرېښودل ډېر لاملونه لري، چې تر ټولو مهم یې ناوړه دودونه، د مصونیت نشتوالی، امنیت او ورته نورې ستونزې دي.

زیاتره نجونې په لسم او یوولسم ټولګي کې خپلې زدکړې پرېږدي، ځکه چې نور یې کورنۍ اجازه نه ورکوي او یا یې واده کوي.

د دوی په خبره چې سږکال به د نجونو د جدید الشمول په برخه کې خپلې هڅې چټکې کړي او د خلکو په مرسته به د نجونو تعلیم ته ډېره پاملرنه وکړي.

د معلوماتو له مخې، دا مهاَل په کندهار کې شاوخوا۷۹ زره ښځینه زده کوونکې په ابتدائیه ښوونځیو کې په زده کړو بوختې دي.

## تدویر ورکشاپ آموزشی برای معلمین مکاتب ولایت کنر

برای معلمین مکاتب مرکز وولسوالی های ولایت کنر ور کشاپ آموزشی ۱۲ روزه تحت عنوان بلند بردن سطح ظرفیت استادان دایر گردید

در محفلی که بدین مناسبت در تالار جلسات ریاست معارف آنولایت تدویر گردیده بود رئیس معارف آنولایت طی سخنانش اشترا ک کننده گان ورکشاپ را متوجه مسوولیت ها و وظایف شان نموده انکشاف و ترقی کشور عزیز مان افغانستان را باداشتن استادان لایق و دلسوز و وطندوست مربوط دانست از استادان و معلمان خواست تامحتویات ورکشاپ را به دقت کاملتر فرا گرفته و در آموزش و پرورش سالم اولاد وطن سهم فعال گیرند تا اقتصاد کشور را با فارغان لایق و دانسته شگوفان سازند.

در این ورکشاپ ۱۲ روزه که به همکاری ریاست عمومی تربیه معلم وزارت معارف براه انداخته شده ، به تعداد ۲۸۰۰ تن از معلمین مکاتب مرکز و ولسوالی های ولایت کنر اشتراک دارند که در دو دوره آموزش می بینند.

## د سواد د نړیوالې اوونۍ د نمانځنې پروګرامونه پیل شول

د پوهنې وزارت د سواد زده کړو معینیت په کابل کې د سواد زده کړو د نړیوالې ورځې د نمانځنې اونۍ پیل کړه. په هغه غونډه کې چې له همدې امله جوړه شوې وه د پوهنې وزیر ښاغلي ډاکټر اسدالله حنیف بلخي، د سواد زده کړو معین ښاغلي سردار محمد رحیمي، د وزارت یو شمېر رییسانو، د مرسته کوونکو موسسو استازو، د مدني ټولنې غړو او خبریالانو ګډون درلود.

په پیل کې د پوهنې وزیر ښاغلي ډاکټر اسدالله حنیف بلخي مېلمنو ته د ښه راغلاست ویلو ترڅنګ، د سواد زده کړو په پیاوړتیا او پراختیا کې د نړیوالو موسسو د مرستو یادونه وکړه او دغه مرستې یې د بې سوادۍ په له منځه وړلو کې خورا مهمې وبللې.

ښاغلي بلخي زیاته کړه: د یوې ټولنې د ترقۍ او پرمختګ تر ټولو مهم عنصر د باسواده او پر علم او ټکنالوژۍ د سمبالو وګړو درلودل دي او له همدې امله یې د افغانستان له ټولو خلکو په ځانګړې ډول له دیني عالمانو او قومي مشرانو وغوښتل، چې په ټولنه کې د سواد زده کړو په ودې او پراختیا او د بې سوادۍ په له منځه وړلو کې له دې وزارت سره مرسته او همکاري وکړي.

د پوهنې ښاغلي وزیر د بې سوادۍ د له منځه وړلو په برخه کې د سواد زده کړو معینیت د پروګرامونو او د ملي وحدت حکومت د ښوونیزو پالیسیو یادونه وکړه، چې پر بنسټ یې د جمهوري ریاست د دویم مرستیال قانونپوه سرور دانش په مشرۍ د سواد زده کړو ملي کمېټه جوړه شوې او د بې سوادۍ د له منځه وړلو په برخه کې مهم پلانونه او پروګرامونه تر لاس لاندې لري .

وروسته د پوهنې وزارت د سواد زده کړو معین ښاغلي سردار محمد رحیمي د سواد زده کړو د نړیوالې ورځې په اړه خبرې وکړې او په دې برخه کې یې د یاد معینیت د هڅو او د هېوادوالو او دیني عالمانو د ملاتړ ترلاسه کولو یادونه وکړه.

ښاغلي رحیمي زیاته کړه، چې پوهنې وزارت د بې سوادۍ د له منځه وړلو او د هېوادوالو د بادسواده کولو په موخه له ۵۳ وزارتونو، خپلواکو ریاستونو او نورو... (۲ مخ)

د پوهنې وزارت مشري د پوهنې د نظام لارویانو او د افغان ملت ټولو دردیدلو هېوادوالو ته د لوی اختر د رارسیدو له امله د زړه له تله مبارکي وایي

## سرمقاله :

# یواځې باکیفیته پوهنیز نظام کولای شي په هېواد کې شته ستونزو ته د پای ټکی کېږدي

لکه څنګه چې ټولوته څرګنده ده زموږ ګران هیواد افغانستان د طبعي زیرمو له پلوه یو ډېر غني هیواد دی او دغه راز د خاورې د پراخوالي له پلوه هم د وګړو په تناسب له ډېرو اروپایي هیوادونو څخه لوی هیواد دی. له بده مرغه، سره له دې چې په یو ډېر غني هیواد کې ژوند کوو خو سره له هغه هم خپلې ټولې اړتیاوې له بهر څخه پوره کوو او د نورو مرستو او خیراتونو ته سترګې په لاریوو اوس چې یوویشتمه پیړۍ کې ژوند کوو زموږ زراعت لاهم په بشپړه توګه ندی میکانیزه شوی، صنعت مو په ټپه ولاړ دی، د غرونو ګیډې مو لا هماغسې له طبعي زیرمو ډکې پاتې دي، له شپیتو کالونو را په دې خوا د تیلو او ګاز بیلا بیل تشکیلات شته، مامورین یې معاشونه اخلي، خو یوه قطره تیل هم نه دي را ایستل شوي، مست او څپاند سیندونه مو چې د ۲۵۰۰ میګاواټه بریښنا د تولید ظرفیت لري د پخوا په شان په طبعي توګه نورو هیوادونو ته بهیږي او موږ د بریښنا او کرنیزو بندونو د جوړولو توان لا هم نه دی موندلی، پریمانه لمریزه انرژي په واک کې لرو خو موږ یې د مهار کولو توان نه لرو په سلونو زره هکتاره ځمکه مو بې کښته پاتې ده او موږ ورته اوبه نشو برابرولی، لنډه دا چې هغه علم او پوهه چې زموږ اقتصاد پرې پیاوړی کیږي زموږ خلك پرې بسیا کیږي او زموږ د ګدایي لاس لنډوي له موږ سره نشته. د هیواد اقتصاد مو په بهرنیو مرستو ولاړ دی او موږ ټول لاس تر زنې ناست یو او پردیو پیرزوینو ته سترګې په لاریوو. ګرانه ښوونکیه او زده کوونکیه!

که څه هم یادو ستونزو ته د حل لاره موندل ډېره سخته او له خنډونو او کړاونو ډکه پریښې خو دومره د تشویش وړ هم نه ده وایي: (که غر جګ ده په سر یې لار شته) د دغو ټولو ستونزو د هوارولو ساده او آسانه لار د یو با کیفیته پوهنیز نظام د بنسټ ایښودل او ښیرازه کول دي زموږ پوهنیز نظام په دې ورستیو کلونو کې په کمي لحاظ د توقع برخلاف زیاته وده کړې او زموږ په میلیونو ځوانان نجونې او هلکان د خدای(ج) په فضل او رحمت په ډېره مینه ښوونځیو ته راون دي خو د پوهنیز نظام کیفیت مو لا تراوسه هم تر پوښتنې لاندې ده موږ د معارف د کیفیت د لوړولو لپاره په خپل ټول توان او طاقت زیار باسو چې د دارالمعلمینونو د جوړولو الحاقیو روزنیزو ورکشاپونو او سیمینارونو له لارې د خپلو ښوونکو او استادانو تعلیمی کچه لوړه کړو څو هغوی وکولای شي د پوهو او لایقو او د کار د بازار په پام کې نیولو سره فارغان ټولنې ته وړاندې کړي او په بیلابیلو څانګو کې مسلکي او علمي کادرونو وروزي څو زموږ د هیواد اقتصادي څرخ په دوران راولي. په څرګنده باید ووایو د یوه باکیفیته پوهنیز نظام جوړول یواځې د پوهنې وزارت په توان کې نه دي بلکې زموږ د ولس، میندو او پلرونو دولتي مشرانو او زموږ د ښوونکو او استادانو هر اړخیزې مرستې او سخاوت ته اړتیا لري. باکیفیته پوهنیز نظام چې په واقعي توګه وکولای شي زموږ په ځمکه پروت اقتصادي نظام په پښو ودروي، زموږ د خلکو په تیره زموږ د منور قشر مرستو او همکاریو ته اړتیا لري موږ په دې باور یو چې یو باکیفیته پوهنیز نظام کولای شي چې هیواد له اوسني سیاسي، اقتصادي او فرهنګي ناورین څخه وژغوري ډېر کلونه کیږي چې زموږ د هیواد د خلکو او ځوانانو له بیسوادي او کم سوادي څخه ناوړه ګټه پورته کیږي او هیواد مو له سیاسي، فرهنګي او اقتصادي پلوه ګواښل کیږي، ښوونځي مو سوځول کیږي او د علم او عرفان دروازې مو د ځوانانو پرمخ تړل کیږي چې موږ د دغه درونډ پیټي د پورته کولو توان یواځې او یواځې دخپلو خلکو په بې ساري ملاتړ اود پوهو او مسلکي ځوانانو په سالمه روزنه او د یو با کیفیته پوهنیز نظام په سمسورولو کې ګورو او د پوښتنې بشپړ ځواب یې ګڼو.

## د کابل ښار ښوونځیو ته نوي تدریسي او اداري مرستیالان ټاکل کېږي

د کابل ښار ښوونځیو د تدریسي او اداري مرستیالانو د ګمارنې په موخه له ۴۳۰ تنو څخه د آزاد رقابت له لارې آزموینه واخیستل شوه.

له دې ډلې به ۲۴۰ تنه مسلکي او باتجربه کسان د یوې رڼې پروسې په پایله کې د کابل ښار د ښوونځیو د تدریسي او اداري مرستیالانو په توګه وټاکل شي. یاده آزموینه د پوهنې وزارت د مرکزي رییسانو او د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو د کمېسیون د استازو په ګډون د کابل ښار په رابعه بلخي لیسه کې واخیستل شوه.

د لومړي مخ پاتې

## سواد د نړیوالې...

دولتي بنسټونو سره د همکاره لیکونو د لاسلیکولو پروګرام تر لاس لاندې لري او تر دې مهاله یې د عدلیې، ښځو چارو او کار، ټولنیزو چارو، شهیدانو او معلولینو وزارتونو او د افغانستان ملي راډیو تلویزیون سره په بېلابېلو برخو کې همکره لیکونه لاسلیك کړي او له پاتې نورو بنسټونو سره به هم یو پر بل پسې لاسلیك شي.

د یادولو وړ ده، چې د روان کال په تېرو شپږو میاشتو کې په ټول هېواد کې څه باندې ۱۵۷۰۰ د سواد زده کړو کورسونه فعاَل و. له دغو کورسونو شاوخوا ۳۴۶۰۰۰ تنه چې د عمومي زده کړو د درېیم ټولګي معادل زده کړې یې کړې فارغ شوي دي دغه زده کوونکو ته د ۱۰۳۶۵ تنه مسلکي ښوونکو، چې له ډلې یې ۴۵۲۳ تنه مېرمنې دي، زده کړې ورکول کېدې.

دغه راز د هېواد په ۲۰ ولایتونو کې د حرفوي او سواد زده کړو ۶۶ ښوونځي هم فعال دي، چې د سواد زده کړو کورسونو فارغان کولای شي، په یادو ښوونځیو کې خپلو زده کړو ته دوام ورکړي.

# پولیو یا فلج اطفال نوع بیماری ویروسی است

پولیومیلیت Poliomyelitis یا فلج اطفال نوعی بیماری ویروسی است که در آن ویروس مولد بیماری موجب آسیب تعدادی از سلول های نخاع شده و بدنبال آن تعدادی از عضلات اندام های بیمار فلج میشوند. این بیماری با انجام واکسیناسیون تا حد زیادی در بسیاری از نقاط دنیا ریشه کن شده است ولی در بعضی کشورها مانند پاکستان و افغانستان همچنان وجود دارد.

ویروس این بیماری می‌تواند از طریق تماس مستقیم با فرد آلوده یا تماس با مخاط دهان یا بینی فرد آلوده، وارد بدن شود .عامل بیماری پس از ورود به بدن، در گلو تکثیر شده و از طریق گردش خون یا مایع لنف، در بدن حرکت کرده و پس از رسیدن به نخاع، به سلول‌های نخاع حمله می‌کند و با نابود کردن این سلول‌ها در واقع کار انتقال پیام عصبی مغز به اندام‌های حرکتی را مختل کرده و در نتیجه حرکت برخی اعضای بدن مختل شده و فلج پیش می شود.

تطبیق واکسین یکی از خدمات مؤثر و ارزان برای کاهش مرگ ومصابیت اطفال کمتر از ۵ سال میباشد. مردم با پوشش بلند واکسین از مرگ و معلولیت ناشی از امراض قابل وقایه توسط واکسین، محافظت میگردند.هدف عمده از خدمات تطبیق واکسین کاهش دادن میزان مرگ و میر و مصابیت اطفال کمتر از ۵ سال بوده و یکی از ستراتیژی های رسیدن به اهداف انکشافی هزاره میباشد.

ابتکار محو پولیو، برای مدت نزدیک به دو دهه یک فعالیت صحت عامه به سطح جهان بوده که پیشرفت قابل ملاحظه داشته و میلیون ها اطفال را از فلج دایمی محافظت نموده است.

پولیو یکی از امراض خطرناک دوران طفولیت بوده که باعث فلج شل (نرم) حاد در اطفال میگردد. این بیماری از سبب ویروس وحشی پولیو بوجود می آید. بعد از گرفتن غذا و آب ملوث ویروس ها از طریق فمی وارد بدن انسان گردیده و در امعای کوچک تکثر مینماید. بعدآ ویروس ها داخل سیستم خون گردیده به سیستم عصبی حمله آور شده و باعث فلج شل میگردد. کدام تداوی علاج بخش برای پولیو حتی در کشورهای پیشرفته وجود ندارد. یگانه پیشگیری آن واکسین نمودن تمام اطفال کمتر از پنج سال هر بار با استفاده از دو قطره واکسین فمی پولیو میباشد.

افغانستان یکی از سه کشور اندیمیک باقی مانده در جهان است، به این معنی که انتشار فعال ویروس وحشی پولیو در آن وجود داشته و واقعات تائید شده پولیو توسط شبکه سرویلانس سرتاسری کشف گردیده اند. پاکستان و نایجیریا دو کشور اندیمیک دیگر در جهان میباشند.

### انتشار پولیو در حال حاضر

محو پولیو در افغانستان یک پیشرفت ثابت را نشان میدهد. در سال ۲۰۱۲ افغانستان ۳۷ واقعه تائید شده پولیو را گزارش داده بود در حالیکه در سال ۲۰۱۱، ۸۰ واقعه گزارش داده شده بود؛ که یک کاهش قابل ملاحظه بیشتر از ۵۰٪ را نشان میدهد و همچنان تعداد ولسوالی های دارای واقعات مثبت پولیواز ۳۴ ولسوالی در سال ۲۰۱۱ به ۲۱ ولسوالی در سال ۲۰۱۲ کاهش یافته . در سال ۲۰۱۳



چهارده واقعه تائید شده پولیو گزارش داده شده است در حالیکه در سال ۲۰۱۲ ، ۳۷ واقعه تائید شده گزارش داده شده بود. که یک کاهش نزدیک به ۶۲ در صد را نشان میدهد. از این چهارده واقعه ۱۲ از ولایات ننگرهار و کنر در زون شرق کشور گزارش داده شده، در حالیکه یک واقعه از ولسوالی ناد علی ولایت هلمند و اخرین واقعه از ناحیه شانزدهم ولایت کابل راپور داده شده است.

# په ماشومانو کې د حسادت روحیه له منځه یوسئ

ګل رحمان رحمان

حسادت په ماشومانو کې یو عام غبرګون دی، حسادت یو عاطفي احساس دی چې د زیاتره پوهانو له نظره له انسانی غرایضو څخه سرچینه اخلي او په انسانونو کې اوږده مخینه لري په قرآنکریم کې هم د یوسف (عِ) د ورونو په باب داستان کې د هغه یادونه شوي ده په واقعیت کې حسادت یو ډیرمهم او بشپړ نا پیژندل شوی د انسانی تضادونو او کړکیچونو غبرګون او انګازه ده چې له ماشوتوب څخه له انسان سره مل وي او له ټولنیز پلوه د انسان لپاره ډیرمهم ګڼل کیږي ځکه چې د ماشومتوب په دوران کې د غوسې، قهر او حقارت د احساس په منځته راوړلو سر بیره د دې سبب کیږي چې په لوړ سن او ځوانی کې انسان له خپل چاپیریاَل او ټولنې سره خپلې اړیکې پرې کړي او یواځې او ګوښې پاتې شي.

زیاتره روانشناسان پدې آند دي چې هغه حسادت او ویره چې اندازه یې ډیره لږه معقوله او منطقي وي ګټوره تمامیږي ځکه چې ماشومان په دې صورت کې لږ څه خپواك حرکت کوي او دیوې محرکې قوې په توګه د هغو پرفعالیت اغیزه شیندي او د پرمختګ سبب یې کیږي، خو که د حسادت کچه زیاته وي کیدای شي ډیرې ناوړه پایلې له ځان سره ولري. په هغو ماشومانو کې چې عمریې له ۲–۵ کلونو پورې وي دځینې نورو عواطفو او احساساتو په شان د حسادت کچه هم زیاته وي او دغه روحیه په نجونو کې تر هلکانو زیاته لیدل کیږي چې اصلي محرك یې کورنۍ چاپیریال دی. زیاتره ماشومان هڅه کوي چې مور او پلار په یواځې او انحصاري توګه د هغوی وي په ځانګړې توګه کله چې نوی ماشوم په کور کې پیدا کیږی. نوموړې روحیه نوره هم پیاوړې کیږي. ماشومان په هر سن کې چې وي هڅه کوي چې د کورنۍ پاملرنه ځانته جلب کړي او په کورکې د دویم ماشوم پیدا کیدل دهغه لپاره یو ناورین وي، ماشومان خپل حسادت په بیلا بیلو ډولونو څرګندوي، ځینې په ښکاره توګه دماشوم په سترګوکې ګوته ننباسي، هغه وهي.... ځینې نور له کوره بهر هغه ته زیان رسوي او کله نا کله آن دهغه د مرګ لامل ګرځي چې نوموړی حالت یې ډیر بد رنګه حالت دی چې ماشوم په استرس یا افسردګی اخته شوی وي ماشومان پدې حالت کې د ډوډۍ خوړلو پرهیزکوي ځان په ناروغی اچوي، بې اشتها وي، ډاریږي د کوچنو ماشومانو په شان خپلې ګوتې زدویي... او داسې نور چې دغه ټول اعمال د دې لپاره تر سره کوي څو دمور او پلار پاملرنه ځانته راواړوي او هغه چاته د والدینو پاملرنه کمه کړي چې دې ورسره حسادت لري، زیاتره میندې او پلرونه خپل ماشومان سره پرتله کوي چې نوموړی عمل په ماشومانو کې د حسادت روحیه را پاروي په تیره کله چې مشر اولاد د نورو په پرتله زیاد امتیاز تر لاسه کوي د نورو د حسادت وړګرځي حسود ماشوم له سیالۍ او هڅې او کوشش څخه ځان ساتي. ګوښتوب غوره کوی او بدمخي اختیاروي که چیرې دحسادت په خپل وخت درملنه ونشي په فرد باندې ډیر ناوړه اغیزه کوي او سره له دې چې د نورو د ازار سبب ګرځي خپل ځانته هم زیان رسوي او دسقراط په وینا حسود د نورو په چاغیدو کړیږي.

### د حسادت د مخنیوی لارې چارې:

ځینې میندې او پلرونه کله چې په ماشوم کې دحسادت پیښه ګوري هغه په شدت سره ټکوي په داسې حال کې چې دغه روحیه په ماشوم کې د یو پټې سکروټې په شان پاتې کیږي او کله چې وخت تر لاسه کوي په خپل ټول زور او توان سره خپل حسادت څرګندوي چې ښې پایلې نلري.خپل مشر زوی په دې قانع کړئ چې نوی پیدا شوی ماشوم د هغه او مور ترمنځ په مینې کې کموالی نه راولي او هغه وهڅوي چې د مشر په توګه د خپلې مور په شان هغه ته پاملرنه وکړي او ویې ساتي. د حسادت په وجه د ماشومانو وهل او ټکول کیدای شي د رقابت احساس په دښمنی بدل کړي چې په هر صورت باید هغوی قانع کړای شي.

دمشر اولاد امتیازات او مسوولیتونه له کشرانو څخه مه پټوئ او په ښکاره ټوګه نوموړي امتیازات دهغو لپاره و ټاکۍ څو واړه ماشومان په دې پوه شي چې د دغه شان امتیازاتو د لاسته راوړلو لپاره باید لوی شي او مسوولیتونه هم په غاړه واخلي. خپل هر ماشوم ته خاصه او ځانګړې پاملرنه وکړئ د عدل او عدالت د فضا د رامنځته کولو لپاره خپل محبت او مینه له هغو سره مه ویشئ بلکې هر یو ته ځانګړې پاملرنه وساتی چې هر یود دې احساس وکړي چې زه په خپل مور او پلار له ټولو زیات ګران یم او زیات اهمیت ورته لرم او نوموړی راز له خپل ځان سره وساتی ځکه چې ماشوم ډیر ژر هغه درك کوي. او یو ټکی چې ډیر مهم دی هغه دا دی چې کله له خپل یو ماشوم سره یاست کوښښ وکړئ چې یواځې له هغه سره واوسئ او هڅه وکړئ ماشوم مو داسې احساس وکړي چې تاسې یواځې دهغه یاست او نوموړی دکورنۍ یو خاص غړی دی. په ماشومانو کې د حسادت د روحیې له منځه وړل دمیندو او پلرونو ظریفانه رواني پوهې ته اړتیا لري چې ځوانې میندې او پلرونه مکلف دي چې د مشرانو او لویانو خبروته غوږ ونیسي دهغو له تجربو څخه ګټه واخلي او دغه راز باسواده میندې او پلرونه او ښوونکې د تربیتي روانشناسی د پوهانو نظریات او تجربې وڅیړي او په ورځني ژوند کې ورڅخه ګټه پورته کړئ. نوکه چیرې موږ د دې هیله لرو چې روغ ماشومان ولرو او خپله ټولنه سالمه وساتو نو باید دخپلو ماشومانو غوښتنې، احساسات او عواطف هیر نه کړو د هغه خبروته غوږ ونیسو د هغو عقایدوته درناوی وکړو او دنیا د هغوی په سترګو وګورو او په هغو باور ولرو. ډیره کوچنۍ تعلیمی او تربیتي تیروتنه کیدای شي ډیرې ناوړه پایلې ولري ځکه چې د نن ورځې ماشومان د سبا ورځې میندې، پلرونه، وزیران، قاضیان، پوځیان،څارنوالان او ښوونکي جوړیږي او ناروغ مشران ټولنې ته د طاعون په ناروغۍ بدلیږی او د ټولنې اقتصادي، فرهنګي او سیاسي بنسټونه زیانمنوي.

# عید ایمان و امتحان، عید ایثار و احسان، عید قربت و قربان، عید خلیل و رحمان، عید شکست طلسم شیطان را به همه هموطنان عزیز مبارکباد میگویم

## برسات

شوګیر چې درته شپو پر څنو مات راوړی دی
یو خوب مې درته سترګو کې سوغات راوړی دی
دا ډک جام چې نن ربړدي په لاسو کې د فرعون
موسی له کوه طور څنې تورات راوړی دی
دا چا ویل چې وربې د پښتون شولې حجرې؟
دې وربو میکائیل ته هم خیرات راوړی دی
شپه پر لمبو سره ده او شپه پر ګلو سره
دې خاورې کله جل، کله برسات راوړی دی
ساعت وروسته رازیږو دا ساعت خیر دی چې مرو
تقدیر راته بس دغسې سوغات راوړی دی
سپېڅلی مسلمان دی خو یې زده نه شوه سجده
دې قام ته خدای د خپل غرور ذکات راوړی دی

رالیږونکي: عزیر

## شناخت شاگردان عقب مانده ذهنی

محمد اکرم وفادار

عقب مانده ذهنی به کسی اطلاق میشود که عملکرد ذهنی اش از حد متوسط پائین باشد و از نگاه بهره هوشی پائینتر از (۷۰) قرار داشته باشد. و این معیار قبل از اواخر نوجوانی تعیین شده باشد، کسانی که در اثر حوادث یا بیماری ها و آسیب های مغزی تا حدودی توانمندی ذهنی خود را از دست می دهند عقب مانده ذهنی به حساب نمی آیند، عقب مانده ذهنی بیشتر کمبودات خود را در اعمال و حرکات چون راه رفتن، نشستن، حرف زدن و در عدم ناسازگاری اجتماعی نشان میدهند و از هم صنفی های خود در خواندن، آموزش ریاضیات و رشد اجتماعی عقب اند، از نظر یادگیری، یاد آوری و رشد زبانی عقب بوده، در تشخیص و تمیز دادن مشکل دارند، در خواندن و مهارت های مربوط به زبان پیشرفت خوب ندارند، توجه به خصوص تمرکز در توجه شان ضعیف است. همیشه نیازمند دستورات شفاعی به شکل تکراری می باشند. در گفتار ضعیف و در شنیدن نیز مشکل دارند، نمی توانند جهت صدا را مشخص سازند، این اطفال اکثراً در بینایی نیز مشکل دارند، چشم های خود را مکرراً می مالند و از درد چشم شکایت می کنند و در مقابل نور حساسیت دارد مطالب خواندن را بسیار نزدیک به چشم می گیرند یا از حد معمول دور قرار می دهند وقتی به اشیاء می نگرند سر خود را به زاویه نا مناسبی نگه می دارند.

از نگاه رشد زبانی تأخیر دارند و ضعیف هستند اکثراً به نوک زبان صحبت می کنند، یا به اصطلاح نیم زبانه هستند، دچار لکنت زبان هستند؛ مثلاً: بجای عکس عسک تلفظ می کنند گفتار شان در حد کودکان خورد سال است

(ادامه دارد)

## صحرا

شهر بر من تنگ شد آهنگ صحرا می‌کنم
روی صحرا را ز اشک خویش دریا می‌کنم
در گلستانی که بر یاد رخت خوانم غزل
بلبلان را بر نوای خویش شیدا می‌کنم
نیستم زاغ و زغن تا مایل سفلی شوم
من همای اوج قدسم میل بالا می‌کنم
سرو چون قد می‌فرازد در میان بوستان
من خیال قامت آن سرو بالا می‌کنم
من که مخمور نگاه نرگس مست توام
کافرم گر التفات جام و صهبا می‌کنم
قامتت سرو و رخت گل، زلف سنبل، غنچه لب
من تماشای گل و گلشن در اینجا می‌کنم
آه، یک غم نامه ما را نخواندی از غرور
گرمن از بهر تو صد مکتوب انشا می‌کنم

ارسالی: شهر

## لوی اختر

اختره لیرې شه له ما نه چې غمو ځپلی یم
هیڅ ښادي په تاکې نشته قسمتو ځپلی یم
د خوښیو اخترنه ئې نه خوښي په تاکې وینم
بس په پټه خوله تیریږه چې پردو ځپلی یم
دهیواده بیګانه یم،په هجرت کی عمرتیرسو
په خیالو کې لارې څارم خپل فکرو ځپلی یم
زما د عمر ورځې ورو،ورو را څه ولاړې
غلې ، غلې چې تیریږي دغو شپو ځپلی یم
اوس په پوه سوم برکت په تا کې نسته
برناحق لاس په دوعایم،امیدو ځپلی یم
نن دبوروشور ما شور پر هدیرو دی
سوي چیغې ترآسمانه، دې اورو ځپلی یم
ټرمې اوښکې دبوډا چې پر مخ وینم
جدایي دپلار او زوی ده دې ناروځپلی یم
زه دننګ اودغیرت ناري وهمه
بدقسمت مې پرخپل کورځپلی یم

رالیږونکي: عاطفه

## نوشیدن آب باعث لاغری میشود

دانشمندان در تحقیقات تازه که انجام دادند دریافته اند که نوشیدن نیم لیتر آب قبل از هر وقت غذا باعث کم شدن اشتها میشود. دانشمندان در جدید ترین تحقیقات شان گفته اند که مصرف آب قبل از صرف صبحانه ۷۵ کالری را کاهش میدهد و میتواند گفت که این ۷۵ کالری در مدت یک سال به ۲۷ هزار و ۳۷۵ کالری یعنی معادل ۳ کیلو گرام چربی میرسد. دانشمندان میگویند نوشیدن آب از طرف صبح برای افرادی که دچار چاقی اند بسیار مفید میباشد و باید تلاش کنند تا همیشه آب بنوشند و ازچاق شدن بیشتر وجود شان جلوگیری کنند.

### نوشیدن شیر فشار خون را پائین می آورد

پژوهشگران علوم طبی امریکا اعلام کردند که نوشیدن شیر بدون قیماق آن، بدن را در برابر بیماری افزایش فشار خون محافظت میکند. محققان انجمن قلب در آمریکا در نتیجه ی بررسی ای که بروی سی هزار زن میان سال انجام دادند ، دریافتند زنانی که شیر کم چرب بدون قیماق استفاده کرده بودند کمتر در معرض فشار خون بالا قرارداشتند. این محققان نوشیدن حد اقل روزی دو بار شیر بدون قیماق را به خاطر جلوگیری از افزایش فشار خون بالا توصیه میکنند.

### شناسایی آنزایمی که از سرطان جلوگیری میکند!

دانشمندان جاپانی موفق شده اند آنزایمی را دریابند که از بروز سرطان جلوگیری میکند و امید وار اند که دیگر احتیاجی به تداوی برای جلوگیری از دومین نوع سرطان معمول در جهان نخواهد بود. دانشمندان جاپانی به این باور اند که آنزایم سی ایچ ای پی میتواند با کم کردن تعداد پروتین هایی که سرطان ایجاد میکند از رشد سرطان جلوگیری نماید.

ارسالی: محمد عباس

## اخترونه او ویاړونه

له اختره ګیله من یو ګیله نه کوو له ځانه
هرزیاتی له موږه شوی یو خوابدي له آسمانه
داپه بده ورځ چې سر یو نتیجه مو داعمالو
پند مو نه واخیست هیڅکله له ربښې ربښې ګرېوانه
پخپل لاس مو زولنې ځان ته کړې جوړې دا موحال دی
هره خوا دېوال دېوال دی وتی نه شو له زندانه
چې په جوش راشو خپل هوش ورکړو ونورو ته په لاس کې
په یو څو باټو تېروزو خالي لاس ځو له میدانه
هر چنار لمبه لمبه شو هرمنګی ټوټې ټوټې شو
دګلرنګې دپېزوان پړک نه را رسي له دالانه
پخپل ځان کې مو یوه زره احساس دنېکې نشته
سر وهو په څمکه څمکه هر څه غواړو له یزدانه
ځینې شوق اخیستي حورې او غلمان غواړي چې خپل کړي
ناجایزې لارې نیسي ناخبر له سود اوزیانه
نو په کوم انصاف دا خپله پړه په اختر خواره کې بار کړو
موږ پخپله خپل باغ سوی ارمانجن څو له بوستانه
دا وحشت او دا ذلت به لا تر څو خپور وي بسمله
اخترونه او ویاړونه یې ولجه کړل له افغانه

رالیږونکي: حشمت

## دوکتور محمد اکرم د پوهنې اتلسم وزیر

دوکتور له ۱۳۴۶ څخه تر ۱۳۴۷ کال پورې د پوهنې د وزارت د وزیر په توګه دنده اجرا کړې ده. دوکتور محمد اکرم د محمد حسن دلبر زوی دی چې د ۱۲۹۵ کال د مرغومې په ۲۵ مه نېټه زیږېدلی دی. ښاغلي دوکتور محمد اکرم حسن خپلې لومړنۍ او ثانوي زده کړې د کابل د استقلال په لېسه کې سر ته رسولې او په ۱۳۱۷ کال د لوړو زده کړو لپاره فرانسې ته تللی دی. نوموړي په فرانسه کې د تاریخ او جغرافیې په څانګه کې د نارملزتولوس له تعلیمي موسسې څخه په ۱۳۲۱ کال کې د لېسانس دېپلوم په لاس راوړی او په ۱۳۲۶ کال یې له یادې موسسې څخه دوکتورا لاسته راوړه. کله چې ښاغلي دوکتور محمد اکرم په فرانسه کې خپلې لوړې زده کړې بشپړې کړې او د دوکتورا د سند په لاسته راوړلو بریالی شو نو بېرته خپل هېواد ته راستون شو. نوموړي د بیلابیلو دندو تر څنګ چې په هیواد کې یې تر سره کړې دي په ۱۳۵۸ کال کې په مادرید کې د افغانستان لوی سفیر وو او په یونسکو کې د افغانستان د دایمي غړیتوب د پلاوي رییس وو. نوموړی د څو کتابونو او مقالو د لیکلو ویاړ هم لري چې د پوهنې او اقتصاد په برخه کې وې او په کورنیو او بهرنیو مطبوعاتو کې خپرې شوې دي.



گل آغا احمدي وردگ

Weekly Marif Newspaper

۴

A Wholesome, Balanced And Diligent Education System Guaranties The Development And Prosperity Of A Country

Established 2002, Issue No 200, Month August - September

Ministry of Education Cultural and Social Issue

# د سواد د نړیوالې ورځې په مناسبت د پوهنې د وزیر پیغام

بسم الله الرحمن الرحیم "اقـرأ باسْم ربِّـكَ الَّـذی خَلَـقَ" صـدق الله العظیم ولوله، د خپل رب په نوم چې هغه (ټـول مخلوقـات) پیـدا کـړي. د سپتمبر ۸ مه چې د وړي له ۱۸ مې نېټې سره برابرېږي، د سواد نړیواله ورځ ده او د رارسېدو له امله یې ټولو درنو هېوادوالو، د سواد زده کړې د پروګرام کارکوونکو، ښوونکو او د علم او پوهې مینه والو ته د زړه له کومې مبارکي وایم. د سواد درلودل او د علم او پوهې پراختیا نه یوازې د هېواد د هر اړخیز پرمختګ، فقر او بې وزلۍ په له منځه وړلو کې مهم رول لري، بلکې د سولې او ثبات په راوستلو کې، چې په اوسني وخت کې زمونږ لپاره یو اړین امر ګڼل کېږي، هم د خورا اهمیت وړ دی. نېکبخته ټولنه هغه ده، چې وګړي یې د علم او پوهې پر وسلې سمبال او د لیکلو او لوستلو له ستر نعمت څخه برخمن وي. بې سواده او ناپوهه ټولنه یوه کمزورې او په نورو پورې تړلې ټولنه وي، چې هېڅ کله هم د پرمختګ او ترقۍ لوړو درجو ته نشي رسېدای. تر هغو چې زمونږ خلک د علم او پوهې په ارزښتمنده ګاڼه سمبال نشي، خپلو مشروعو ارمانونو او د ترقۍ او پرمختګ لوړو درجو ته رسېدل به خورا ستونزمن کار وي. اوسمهال له بې سوادۍ سره مبارزه پر یوه نړیوال نهضت بدله شوې او د نړۍ ډېری هېوادونو د بې سوادۍ له منځه وړلو ته متې رانغاړلې دي.

د افغانستان اسلامي جمهوریت د پوهنې وزارت د ملي وحدت حکومت د ښوونیزو سیاستونو په چوکاټ کې له بې سوادۍ سره مبارزې ته د خپلو پالیسیو په سر کې ځای ورکړی او له هرې ممکنې لارې له دې شومې پدیدې سره مبارزه کوي. په هېواد کې د بې سواده او نالوستو کسانو کومې شمېرې او ارقام چې زمونږ په لاس کې دي، د اندېښنې وړ دي او په دې برخه کې وروستیو اهدافو ته رسېدل جدي هلو ځلو ته اړتیا لري. د هغه امت لپاره چې لومړنی اسماني پیغام یې په لوستلو او لیکلو امر وي او د زده کړو تر لاسه کول عبادت او الهي فریضه وي، له علم او پوهې څخه بې برخې پاتې کېدل د شرم وړ دي. د سواد د نړیوالې ورځې در رارسېدو په مناسبت زمن یو، چې له نړیوالې ټولنې سره په همغږۍ او د ملګرو ملتونو د علمي او کلتوري سازمان (یونسکو) په مرسته به خپل ټول توان او امکانات د بې سوادۍ پر له منځه وړلو او د بې علمۍ او جهل د ټغر په ټولولو کې پر کار واچوو. هیله من یو، چې په نژدې راتلونکي کې د لوی خدای (ج) په مرسته او ددې برخې د مسوولینو په نه ستړې کېدونکو هلو ځلو او د خپلو هېوادوالو په ملاتړ او همکارۍ د یوه باسواد او پرمختللي افغانستان شاهدان واوسو.

# د بادغیس ولایت د حضرت خالد بن ولید دارالعلوم د لیلیې ودانۍ ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه

د باد غیس ولایت د حضرت خالد بن ولید دارالعلوم د لیلیې نوې ودانۍ ګټې اخیستنې



ته وسپارل شوه. دا ودانۍ ۳۰ د اوسېدو خونې، یو د کنفرانسونو تالار، عصري تشنابونه، د اوبو خښلو ځاه او د احاطې دېوال لري. پر دې ودانۍ څه باندې ۱۷،۶ میلیونه افغانۍ لګښت راغلی، چې د پوهنې وزارت له پرمختیایي بودیجې ورکړل شوي دي. ددې ودانۍ له جوړېدلو سره نژدې ۲ سوه زده کوونکو ته د خوندي تدریسي چاپېریال اسانتیاوې برابرې شوې دي.

په دې اړه جوړو شویو مراسمو کې د نوموړي ولایت والي الحاج محمد انور اسحاق زي، په و لسي جرګه کې د بادغیس د خلکو استازو، د پوهنې مسوولینو او یو شمېر نورو دولتي چارواکو ګډون کړی و.

د یادولو وړ ده، چې اوس مهال په یاد دارالعلوم کې ۵۸۳ تنه زده کوونکي د ۲۵ تنه مدرسینو لخوا پر زده کړه بوخت دي.

## امتحانات بست های سوم آمرین مکاتب ولیسه های ولایت بغلان برگزار گردید

امتحانات بست های سوم آمرین مکاتب ولیسه های ۱۴ واحد اداری این ولایت مطابق پلان مطروحه که تعداد شان (۴۲) بست میشود تحت ریاست غلام محی الدین "پیکان حیدری " رئیس معارف ولایت بغلان و کمیته محترم تعینات ولایت هریک نماینده مقام ولایت ، نماینده محترم امور زنان ، نماینده اصلاحات اداری خدمات ملکی ، نماینده خاص مقام محترم وزارت معارف با نظارت مستقیم نماینده محترم شورای ولایت برگزار گردید که از جمله تعداد ۴۲ بست آمرین لیسه ۲۲ بست آن موفق گردید که اسناد شان جهت منظوری و طی مراحل قانونی بمرکز ارسال گردیده و تعداد ۵ بست سوم آمرین لیسه ها دوباره به اعلان سپرده میشود

## تدویر ورکشاپ آموزشی برای معلمین مکاتب ولایت لغمان

برای معلمین مکاتب مرکز وولسوالی های ولایت لغمان ور کشاپ آموزشی ۱۲ روزه تحت عنوان بلند بردن سطح ظرفیت استادان دایر گردید

در محفلی که بدین مناسبت در تالار جلسات ریاست معارف آنولایت تدویر گردیده بود رئیس معارف آنولایت طی سخنانش اشترا ک کننده گان ورکشاپ را متوجه مسوولیت و وظایف شان نموده واز اشتراک کننده گان ورکشاپ خواست تا مسایل که در ورکشاپ مطرح می گردد به وجه احسن در مکاتب شان عملی نماید.

در این ورکشاپ ۱۲ روزه که به همکاری ریاست عمومی تربیه معلم وزارت معارف براه انداخته شده به تعداد ۹۸۰ تن از معلمین مکاتب مرکز و ولسوالی قرغه ای ، علینگار و علیشنگ اشتراک دارند.

## سنگ تهداب دیوار احاطهٔ مکتب ذکور نثاراحمد شهید گذاشته شد

سنگ تهداب دیواراحاطه مکتب ذکورنثاراحمد شهید در شیش تپه ولسوالی بهارک ولایت تخار توسط سیدعنایت الله نوید رییس معارف آنولایت گذاشته شد.

طول دیوار مکتب متذکره ۲۴۸ متر بوده که در مدت یک سال از بودجه انکشافی وزارت معارف اعمار می گردد مکتب نامبرده فعلاً دارای ۸ صنف درسی میباشد که حدود ۷۷۰ تن شاگرد در دو تایم درآن مصروف آموزش می باشند.

# برگزاری سیمینار دسترسی به اطلاعات

سیمینار تحت عنوان «آگاهی دهی در راستای ترویج و تقویت فرهنگ اطلاع رسانی» از سوی کمیسیون نظارت دسترسی به اطلاعات برای ۵۲ تن کارمندان بخش های مختلف وزارت معارف برگزار گردید.

محور بحث برنامه متذکره را حق دسترسی به اطلاعات، اهمیت دسترسی به اطلاعات،



چگونگی روند تقاضاء و عرضه اطلاعات، همچنان وظایف و صلاحیت های کمیسیون نظارت دسترسی به اطلاعات در مطابقت با قانون، دسترسی به اطلاعات در بر میگرفت. اشتراک کننده گان از برگزاری این چنین سیمینار ها استقبال نموده و آنرا برای ترویج، تقویت و استحکام فرهنگ دسترسی به اطلاعات یک امر مهم عنوان کرده و خواهان تدویر همچو برنامه ها در سراسر افغانستان شدند، تا تمام مردم از قانون دسترسی به اطلاعات، همچنان از وظایف و صلاحیت های کمیسیون نظارت دسترسی به اطلاعات، آگاه شوند

در آغاز معراج زمانی آمر نشرات و آگاهی عامه وزارت معارف به اشتراک کننده گان خوش آمدید گفته و در قسمت اهمیت سیمینار متذکره به آن ها معلومات ارایه نمود .

سپس محترم جمشید امیری مسوول این برنامه در رابطه چنین گفت: برنامه آگاهی دهی کمیسیون نظارت دسترسی به اطلاعات زمینه را فراهم می نماید تا مراجعین بتوانند مشکلات که در یک اداره دارند از طریق همین کمیسیون مرفوع سازند.

هم چنان در رابطه به سوال خبرنگار نشریه معارف گفته شد که : کمیسیون نظارت دسترسی به اطلاعات یک کمیسیون مستقل بوده که با هماهنگی وزارت اطلاعات و فرهنگ کار میکند. وظیفه این کمیسیون نظارت از تطبیق عملی قانون حق دسترسی به اطلاعات است که در سال ۱۳۹۳ بعد از تصویب مجلسین شورای ملی جمهوری اسلامی افغانستان توسط رئیس جمهور توشیح شد.

کمیسیون نه تنها در قسمت تطبیق قانون دسترسی به اطلاعات نظارت میکند بلکه مرجع سمع شکایات متقاضیان اطلاعات، نیز میباشد و وزارت معارف هفتمین وزارت است که برنامه آگاهی دهی در آن تطبیق میگردد.

# د ننګرهار په عالي دارالمعلمین کې د شمولیت په موخه آزموینه واخیستل شو

په دې ازموینه کې د ننګرهار ولایت د بېلابېلو لیسو ۶۰۰ تنوفارغانو ګډون کړی وو، چې ډېره برخه به یې په یاد دارالمعلمین کې د زده کړو د دوام په موخه جذب شي.

د عالي دارالمعلمین رییس مولوی محمد داود وویل، چې د امکاناتو په پام کې نیولو سره به د ګډونوالو یو زیات شمېر ددې مرکز په ۷ څانګو کې جذب کړي، چې له دوه کلونو زده کړو وروسته به د مسلکي ښوونکو په توګه ټولنې ته وړاندې شي.

د ننګرهار د عالي دارالمعلمین په ۷ بېلابېلو څانګو کې دا مهال شاه وخوا درې زره تنه زده کوونکي پر زده کړو بوخت دي.

# د خواشینی پیغام

په ډېرې خواشینۍ سر مو خبر تر لاسه کړ، چې د لوګر ولایت د محمدآغې ولسوالۍ د پوهنې آمریت د نظارت غړی محمد ظریف د محمد رحیم زوی د نامعلومو کسانو لخوا په خپل کور کې په ډېرې بې رحمۍ سره په شهادت رسېدلی.



انا لله و انا الیه راجعون.

استاد محمد ظریف د جمعې په شپه شاوخوا ۱۲ بجې د کابل په چهار آسیاب ولسوالۍ کې په داسې حال کې چې په خپله خونه کې ویده و، د دو تنو نامعلومو کسانو لخوا د ډېرې په ګذارونو شهید شوی دی.

شهید محمد ظریف ۶۲ کاله عمر درلود او د محمدآغې ولسوالۍ د سرخاو سیمې اصلي اوسیدونکی و. هغه له دې وړاندې د سرخاو په لیسه کې د ښوونکي سپیځلې دنده ترسره کوله او له تېرو پنځو کلونو راهیسې د یادې ولسوالۍ د تعلیمي نظارت غړی و.

د افغانستان د پوهنې وزارت رهبري په داسې حال کې چې د استاد محمد ظریف شهادت یوه لویه ضایعه بولي د لوی خدای (ج) له درباره مرحوم ته فردوس جنت او کورنۍ او خپلوانو ته یې د جمیل صبر هیله کوي. دغه راز د پوهنې وزارت رهبري له امنیتي ارګانونو غواړي، چې ددې پېښې عاملین ژر تر ژره د قانون منګولو ته وسپاري.

مسوول مدیر: محمد نسیم "عیاذ"

کتنپلاوي: محمد کبیر حقمل- معراج زماني- استاد ګل رحمان رحمان عبدالصبور غفراني - محمد اکرم وفادار

خبریال: - محمد طائب عمري - محمد اشرف رسولي

کمپوز او ډیزاین بریالی رحمانزی

شمیر: ۵۰۰۰

دیجیتل: (۰۷۲۹۸۱۹۰۳۳)

ایمیل: marif.newspaper.moe@gmail.com

پته: دکابل ښار، محمد جان خان واټ، د پوهنې وزارت د نشراتو او اطلاعاتو ریاست، د پوهنې اوونیزې مدیریت